**اسلام د چین لپاره یوه روحي ناروغي ده، چې باید علاج یې وشي**



**(ژباړه)**

**خبر**

د ایغورو د هویت د له منځه وړلو لپاره، د چین بې رحمه کمپاین دوام لري، خو نړۍ پرې چوپتیا غوره کړې. (Aljazeera.com، ۲۰۱۸م، د نومبر ۲۹مه)

**تبصره**

د چین پر پیاوړې اقتصادي وړتیا، ځورونو، غلاوو او په کور د ننه نشنلیستي تعصب سربېره د چین دېکتاتور حکومت لا هم د ختیځ ترکمنستان پر مطیع خلکو فشار راوړي. چین دغو بې ګنا میرمنو، ماشومانو او سپین ږیرو ته په ګډه شکنجې ورکوي. د دوی جرم یوازې دا دی، چې یوازې د الله سبحانه وتعالی عبادت کوي.

که د ژوند لپاره له چینایي ځانګړتیاوو سره د دوی کمونیستي لاره غوره حل لاره وي، بیا نو ولې دوی د ختیځ ترکمنستان مسلمانان له مرۍ نیسي؟

هغه څه چې په ختیځ ترکمنستان کې روان دي، سټالین، هېټلر او حتی اسد پرې شرمیږي. دا سې معلومېږي چې د ابوغریب، ګوانتنامو او د CIA له هغه کوچنې کتاب څخه، چې د شکنجو د تکتیکونو په اړه لیکل شوی، پاڼې ابستل شوې وي. د بوسنیا په جګړه کې پر مسلمانو مېرمنو جنسي تېري، اوس چین نویو چینایي ځوانانو ته د ایغورو مسلمانو مېرمنو پر واده کولو بدل کړي. ([aljazeera.com](aljazeera.com))

داسې معلومېږي چې د چین د ژوند تګلاره، چې له ډول ډول ایډیالوژیو لکه مارکسیزم، چینایي لیلني کمونیزم، د ماهو او زي جېن پینګ پر مټ چین ته وړل شوی کپیټلیستي نظام د ختیځ ترکمنستان مسلمانانو ته قناعت نه شي ورکولی، چې خپل دین، کلتور او خاوره ورته وسپاري. نو دوی په هر ځای کې د فاشیستي رژیمونو پر مټ، چې پر عقل ولاړ نه وو، له زور څخه کار اخیستی. چینایي نظام د ربښتیني سپیڅلي عزت دفاع نه کوي. په خواشینی سره، چې د ختیځ ترکمنستان د مسلمانانو له موضوع څخه معلومېږي، چې چینایان له خپل تاریخ څخه هغه مهال چې اشغالګر جاپان پرې حکومت کاوه، بې خبره پاتې شوي.

ایا د زي جین پینګ دا نوي ډول ټولوژنه د هغه وروستی عدالت دی؟ کومه ربښتینې پایله ده چې دا ایډیالوژي ورته ژمنه وي؟ ایا د نړۍ سلطه پر غلطه رهبری باندې څرخیږي؟ ایا یوازې موخه یې دا ده، چې چینایان له مادي بېوزلۍ څخه راوباسي، یوازې د دې

لپاره چې نور غلامان کړي او پر هغه اېډیالوژۍ پسې یې ذهن او زړه وتړي، چې غلطه، بې پایلې او نیمګړې ده؟ که یا هم دا چینایي کمونیزم د دې لپاره غوره لاره ده، چې د کمونیست ګوند خپل منځي حاکمیت خوندي کړي؟

ایا د چین د رښتینو روڼ اندوو څخه تر اوسه پوښتل شوي، یا یې په دې اړه فکر کړئ، چې د یو ملت رښتینې موخه څه ده؟ کومه رښتینې اېډیالوژي، د کومو ځانګړتیاوو سره، د دغو نجیبو ښاریانو لپاره مناسبه ده؟ له بده مرغه د دوی مارکسیستي، لیلنیستي او کپیټلیستي اېډیالوژي دوی ته د عقلي فکر کولو اجازه نه ورکوي، چې د ژوند اصلي معنی او د ژوند د تنظیم لپاره یوې رښتینې عقلي پایلې ته پرې ورسیږي. دا یو ذهني او عقلاني دوکه ده. دا یوه غلطه او نیمګړې اېډیالوژي ده، چې بله عقلي عقیدې تر پوښتنې لاندې را وستلې ده. دوی حتی د ښوزله، بې دفاع لږکیو څخه چې ځمکه یې ورته ځانګړې کړې، هم ډاریږي.

له بلې خوا اسلامي اېډیالوژي په حقیقت کې د انسان، ژوند او هغو کایناتو له فطرت سره سمه رامنځته شوې، چې موږ پکې ژوند کوو. اسلام د افرادو ترڅنګ د ټولنې لپاره د حکمرانۍ حقوق او مسؤلیتونه ټاکي او ساتنه یې کوي. اسلام د ټول بشریت لپاره د رحمت په بڼه را لېږل شوی، چې موږ له غلامۍ، جعل او دوکې څخه ازادوي او یو روښانه ژوند راپه برخه کړي. دا د دې لپاره را لېږل شوی، چې انسان له هغه ترهګر نظام څخه، چې د خلکو پر لاس جوړ شوي، د اسلامي دین روښنایۍ، سولې او عدالت ته ولېږدوي، چې په سپېڅلیو ارزښتونو او هغو اصولو سمبال دی، چې پرته له دې چې نژاد او عقیده په نظر کې ونیسي، د ټول انسانیت د ساتنې تضمین ورکوي.

په چین کې باید خلک په ښه توګه له هر اړخیز فکر څخه کار واخلي، چې څوک په سمه لاره دي او څوک د ژوند لپاره ښه کړنلاره وړاندې کوي. دا دوی حق دی چې د پروپاګند او درواغو پر وړاندې را پورته شي او د خپل ځان لپاره اسلام وټاکي.

زموږ تش په نامه رهبرانو او خلکو ته د خجالت ځای دی، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امت د ځپلو لپاره دا ډول جنایتونو ته د دوی د سترګو پر وړاندې اجازه ورکوي. دوی زموږ د مسلمانانو ورونو د ټولوژنې لپاره خپل ټول زور او وسلې په کار اچوي. یوه ورځ چې کله د خلافت لمر خپلې وړانګې خپرې کړي، دوی به په شریعت ماخذه کړل شي. اسلامي امت باید کفري حکمرانیو ته د پای ټکی کېږدي او خپلې خاورې ته باید پاملرنه وکړي.

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکوال: حمزه محمد**

**ژباړن: فرید نهضت**